مرحوم علامه عبدالحی حبیبی ۲۰۱۸/۰٤/۰۹

# اشرف خان هجري د پښتو مقتدر قصیده سرا

اشرف خان هجري کله کله ځان روهی هم بولي، د خټکو د کهول یو پوخ او پیاوړئ قصیده سرا دئ. دده په قصیده کښي د وطن د بېلتانه درد او سوی پټ پروت دئ. بېلتون دده کلام ته خاص اثر او رقت او د آتشینو احساساتو تودوالی او د وطني اشعارو خاص رنګ او آهنګ ور بخښلئ دئ د دکن په منفا کښي د (روه) دغه شیرین نوا بلبل هسي درافشاني کا:

ما هجري ته ئې هجران دکن لمبه کړ
ځــــکه تل د یار له غمه در افشان یم

هجري د هنر دوست او فنان ذوق خاوند ؤ، په یوه اوږده قصیده کښي د هنر لوړ مقام او د پښتو شاعرانو هنري منزلت ټاکي او په انتقادي نظر د دوي هنر تجزیه کوي .دا قصیده داسي شروع کیږي چي په ادبي اصطلاح ئې مقتضیه یا محدوده بوللـه ګڼلای سوای ځکه چي کوم نسیب یا تشبیب نه لري:

د مردانو بډایي علـم و هـنـر دئ
آرایش د ګلرخـانو په زیور دئ
د هـنـر پیشه زیـور د زیـرکانـو
هرچه فخر په دولت کاندي بقر دئ

د هجري په نظر کښي آرټ او صنعت په دې نړۍ کښي یوه لایزاله پدیده ده او په داسي حال کښي چي نور اعتبارات نیستي کېدونکي دي، فقط همدغه صنعت د نړۍ ښکلا ساتي او خپل اثر جاویدان پرېږدي، دی وایي :

په اقبال د دهــر ځای د غرور نسته د بقا زوال ئې ژر لــــکه دیګر دئ
په هغه یار فــرزانــه کله نازیږي چي ئې نن په غیر کي یو سبا دیګر دئ
مهین یار تر علـم نسته په دنیا کي په دوه داره مدعا لــره رهبر دئ



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

که عالم په علم جوړ ملك ئې بوله ..... بلکه لا تر پرښتو نه نکو تر دئ

دلته هجري د شاعرۍ فن ته ور ګرزي او داسي ئې ستايي:

هر صفت چي خالق ايښي په بنده کي ..... تر همه وو ګويايي والا ګهر دئ
هيڅ تميز به ئې و نه سي له حيوانه ..... خود په ژبه آل ممتاز د بوالبشر دئ
ګويايي اګر چه کسب د انسان ده ..... ولي هر چي سخنور هغه بهتر دئ
که سبب ئې ګويايي د زبان نه ده ..... سکه په څه بلبل په طيروکي سرور دئ

دلته هجري د خپل قوم د هنري فعاليت لړوالی ته ملتفت کيږي او په دغه تريخ حقيقت په داسي ډول اعتراف کوي، چي دده نقاد نظر ځيني ښکاري.

پښتون ذات چي رب پيدا کړ له ازله
دود د علم او هنر پکي کمتر دئ
که همه قوم پره کړي سر له سره
دا حکمت په خو مکانه مقرر دئ

هجري د خپل پلار خوشحال خان خټك په استادۍ او فني مهارت وياړي او ځان ئې په مستقيم ډول خلف او شاګرد ګڼي او وايي:

اولاً به د استاد له حاله وايم ..... چي ئې شعر جهانګير لکه قمر دئ
په پښتو ژبه چي شعر چا بيان کړ ..... د همه وو نظم ستوري دي، دی نمر دئ
څه خوبي د هغه نمر وايي مهجوره ..... چي ئې نوم د هر نيولئ سر په سر دئ
ټول ئې وسپاره په ما سرير د نظم ..... هغه نمر چي نن د خاورو په بستر دئ
نن حريف د جواب نه وينم په دور ..... نه مي يو له مړو په شعر برابر دئ
زه محتاج د شاهد نه يم په دا قول ..... په راستي مي دا غرا شعر محضر دئ

که څوك خیال د جدل کا زما له نظمه　　دغه ګوی دغه میدان دغه احقر دئ
زیبا شعر هسي زړه د "هجـــري" یووړ
لـــــکه زړه د سفله وړئ سیم و زر دئ

د هجري په کلام کښي د پخوانو قصیده ګویانو اغېزې لفظاً او معناً ښي ښکاري.

شیخ اسعد سوري د پښتو بولونکی یعني قصیده سرا د امیر محمد سوري پر مګرګ له فلکه سره ګیلې ماني کولې او څنګه ئي د هغه ویرنه یعني (رثا) په مهارت او فني لیاقت سره ویلې وه.

اوس د هجري په یوه شکوه کښي هم د هغه زاړه فکر او بلاغت پڅرکي ښه ځلیږي او د منظرنګارئ او استعارې کمال ځني ښکاري:

هسي چاري په انسان ولي سما کا　　چي ئې کار همه په ښت د مدعا کا
کیفیت ئــې مشابه لــه بــازیګرو　　نوی نوی مخ لــه غیبه هویدا کا
ماه و مهر جوړه مهري د حقه بازو　　په ماښام یــوه پــه خــوله بله پیدا کا
توره شپه ګویا پر ده د نیرنګیو　　و هر چاته روزانه بــازي نما کا
سره مهره په لپو ونیسي تیاره سي　　بیا عطسه د شپې مصدره د سبا کا
زمکه سره لکه شهپر سي د مورانو　　چي پیدا له فمــه زاغ د زروهــا کا
د مــراد بــاده خرګنده کا سرې ته　　بیا ئـې زر ورځني پته په جفـا کا
نه به یار و یار ته و بخښي قسم دئ　　نه بــه څــوك ځیني حاصله تمنا کا
بیا به کله درخو وکا سینګارونه　　چي لیمه د حسن سترګي پې خلا کا
نه به بیا آدم شمله په څیره کښیږدي　　چي درخو ئې سینه یخ پــه تماشا کا
د ګردون هسي روش دئ له ازله　　دوه مین په زجر تـل سره سوا کا
هر زمان چي خنجر و کاړي د قهر　　لــه ګدایــه بــرابــر لــوی امرا کا
د فاضل په فضیلت ئې رقت نسته　　نه ئـې تـوره لــږ ادب د اولیاء کا

دا ویل به ارمان کښیږدي په وګړي          که قرائت ئې په منبر باندي ملا کا

چي آخر وفا له مرده مونده نه سي          مرد هغه چي په حیات همه تر شا کا

"هجری" در دي پیوسته د حقیقت کړه

کیفیت ئـې کانــي زړه هتم په ژړا کا

وګورئ چي د شاعر په فکري چاپېر کښي تل د زماني سیاسي او اجتماعي اوضاع اغېره من وي .د اسعد سوري او د خوشحال خان د زوی رثایي قصیدې هم ویرني او شکوې د ي خو هغه وخت د پښتنو سیاسي عظمت د فکري استقلال او پر څان ویسا او د روحي تینګار او صلابت موید ۈ، په ویر او ماتم کښي هم شاعر له دنیا فراز نه کاوه او د یاس او قنوطیت څپو لاهو کاوه لکه چي د اسعد په قصیده کښي نه لیدل کیږي مګر د هجري عصر خو د هندي مغولو د پردي سلطي او اقتدار د لوړتیا وخت ۈ دلته د پښتنو ملي مرکزیت د دوو غښتلو شاهنشاهیو تر منځ تری تم ۈ او خوشحال خان غوندي پیاوړی مشر او د آزادی د جنګ نومیالی مبارز او اور ژبی شاعر تر خاورو لاندي سوی ۈ، نو ځکه د هجري په قصیده کښي یو د یاس او نومیدی رنګ ښکاري، په کوم ځای کښي چي د اسعد سوري او خوشحال له خپلي ویرني او شکوې څخه هم د ژوند او قومي افتخار لپاره نتیجه راباسي .هجري د ملي مړیني په ګروم او ویر کښي دنیا او مافیها ته شا کوي او وایي:

"مرد هغه چي په حیات همه تر شا کا"

دا دئ د بل واکی او بد بختی لوی نښان چي زموږ په قومي شاعرئ کښي د کورګانیانو له مظالمو او جفاوو څخه پیدا سوئ ۈ او د پښتنو دری سوه کاله ددغه اجنبي تاړاکه سره مبارزه کوله .مګر سره ددي چي ددغي دوری په ادبي آثارو کښي ډیري د ګرومه ډکي انګازي پاته دي خو پښتون مهجور شاعر بیا هم خپل وطن او د ملي ژوندون او افتخار مرکز نه دئ هېر کړئ، لکه چي هجري وایي:

که نصیب بنده کـــــــړی په دکن دئ

دامنـګیر یې همېشه عشق د وطن دئ

د زړه باز ئې‌تل د "روه " په زمکه ګزري

که "هجري" په دکن ناست خالي بدن دئ(۱)

(۱) د هجري یاد، د افغانستان د علومو اکادیمی چاپ، ۱۳٦٤، ص ۱_ ۷.